الله تعالى به زما له امت څخه يو سړی د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «الله تعالى به زما له امت څخه يو سړی د قيامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي ، او مخې ته به يې نهه نوي صحيفې خپرې کړي، هره صحيفه به د سترګو تر ليدو پورې (پراخوالی) ولري، بيا به ورته ووايي: آيا ته پدې کې له کوم شي څخه انکار کوې؟ آيا تاسو سره زما ساتونکو ليکوالانو ظلم کړی؟ نو هغه به ووايي: نه اې ربه، نو وبه وايي: آيا ته عذر لرې؟ هغه به ووايي: نه اې ربه، نو هغه به وفرمايي: هو، تاسو زمونږ سره يوه نيکي لرئ، نو يو کارت به راوويستل شي چې په هغه کې به: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ) يعنې زه ګواهي ورکوم چې حق معبود نشته دی مګر يو الله دی، او زه ګواهي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی، نو وبه وايي: وزن دې حاضر کړه، نو وبه وايي: دا کارت به د صحيفو پر وړاندې څه شی وي؟ نو هغه به وفرمايي: يقنيا تا سره به ظلم نه کيږي، وايي: دا صحيفې به د تلې په - يوه - پله کې کېښودل شي او کارت به په بله پله کې، نو صحيفې به پورته - سپکې - شي او کارت به دروند شي، (څکه) د الله تعالى د نوم په وړاندې هيڅ شی نه شي درندېدلای».

[صحيح دی] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې الله تعالى به د قيامت په ورځ د هغه له امت څخه يو سړی د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوغواړي تر څو ورسره حساب وشي، نو هغه ته به ۹۹ صحيفې وړاندې شي، چې هغه به د ده د بدو کړنو عملنامې وي چې په دنيا کې يې کړي دي، او د هرې صحيفې اوږدوالی به د سترګو د ليد په اندازه وي، بيا به الله جل جلاله دې سړي ته ووايي : آيا ته د هغه څه څخه انکار کوې چې په دې صحيفو کې ليکل شوي؟ آيا زما ساتونکو کاتبانو پرېښتو تاسو سره ظلم کړی دی؟ سړی به وايي: نه اې زما ربه. نو الله تعالى به وفرمايي: آيا تاسو سره د هغه عملونو لپاره عذر شته چې تاسو په دنيا کې کړي دي؟ نو سړي به ووايي: نه اې زما ربه! زه هيڅ عذر نلرم. نو الله تعالى به وفرمايي: هو، تاسو له مورِ سره يوه نيکي لرئ، او نن ورځ په تاسو باندې هيڅ ظلم نشته. وايي: نو يو کارت به راوويستل شي چې په هغه کې به ليکلي وي (أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله) زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی. نو الله تعالى به دې سړي ته وفرمايي: وزن دې حاضر کړه. نو هغه سړی به په حيرانتيا سره ووايي: اې ربه! دا کارت د دې صحيفو په مقابل کې به څه وزن ولري؟! نو الله تعالى به وفرمايي: په تا به هيڅ ظلم نه کيږي. وايي: صحيفې به د تلې په يوه پله کې کېښودل شي، او کارت په بله پله کې؛ نو هغه پله به سپکه شي چې صحيفې پکې وي، او هغه پله به درنده شي چې کارت پکې وي، نو الله تعالى به ورته بخښنه وکړي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee